# إنَّ الرُّقَى والتَمائِمَ والتِّوَلَةَ شِرْكٌ «ښېشکه (شرکي) دمونه، بندونه او تعویذونه (یا کوډې کول ) شرک دی

له عبدالله بن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی وايي چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اورېدلي دي چې فرمایل یې: «إنَّ الرُّقَى والتَمائِمَ والتِّوَلَةَ شِرْكٌ «ښېشکه (شرکي) دمونه، بندونه او تعویذونه (یا کوډې کول ) شرک دی».

[صحيح]

رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه کارونه بیان کړل چې کول یې له شرک څخه ديٍ؛ لکه: اول: رقیه: ( دم کول ) هغه وینا چې شرکي الفاظ به یې لرل او د جاهلیت د زمانې خلکو به پرې د شفاء غوښتنه کوله. دویم: تعویذونه له: (مریو، کونجکو، هډوکو او داسې نورو شیانو څخه) چې ماشومانو، څارویو او نورو پورې تړل کیږي تر څو له نظره نشي. دریم: ( بند، کونجکه ) هغه چې پدې موخه جوړیږي تر څو د ښځې او خاوند تر منځ مینه پیدا شي. نو دا کارونه له شرک څخه دي؛ ځکه چې دا له یو شي نه سبب جوړول دي، حال دا چې دا خو نه شرعي سبب دی چې په دلیل ثابت شوی وي او نه حسي سبب دی چې په تجربې سره ثابت شوی وي. او کوم چې شرعي اسباب دي لکه: د قرآن کریم لوستل، یا حسي اسباب دي لکه: درمل (دوا) چې په حسي تجربې ثابته شوې ده، نو دا جایز دي، خو باید دا عقیده وساتل شي چې دا یوازې سبب دی، او دا چې ګټه او ضرر یوازې د الله په لاس کې دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5273

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee